Vol. 3 No. 4 (2025)

ISSN 3007-3170(O)
ISSN :3007-3162(P)

Social Sciences & Humanity Research Review

# An Analytical Research on Class and National Consciousness in the Poetry of Ajmal Khattak

**Fazli Muhtaj[1] ، Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali[2]**

MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**ARTICLE INFO**

**Keywords:**
National Consciousness; Exploitation; Equality; Dignity; Unity; Revolutionary Literature

**Corresponding Author:**
**Fazli Muhtaj**
MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**ABSTRACT**

Ajmal Khattak is a prominent Pashto poet and political activist whose poetry reflects deep concern for social justice, class struggles, and national consciousness. His poems go beyond personal emotions, highlighting the hardships and rights of marginalized communities, includingpeasants, laborers, and the poor. Through vivid imagery and revolutionary language, Khattak portrays the exploitation faced by oppressed groups and advocates for equality, dignity, and unity. This analytical research examines how his poetry raises awareness of class distinctions while fostering a sense of national identity among Pashtuns. By considering historical, social, and political contexts, the study shows that Khattak's work serves both literary and socio-political purposes. His writings blend romantic expression with a strong ideological message, making them a powerful tool for inspiring collective action and social change. Overall, Khattak's poetry demonstrates the poet's commitment to justice, the empowerment of the marginalized, and the preservation of cultural and national identity, establishing him as a central figure in progressive Pashto literature.

د شلمې صدئ په وسط کښې چې د پښتو ادب اسمان چې کوم مزاحمتي ، انقلابي ، قوم پرست او ترقي پسند شاعران او اديبان د ستورو په رنګ کښې وځلېدل ـ په هغوي کښې د يو ځانګړي حېثيت اجمل خټک بابا هم دے ـ چا چې په پښتو ادب په دبستان کښې د انقلابي شاعرئ مضبوط بنياد کېښود ـ څۀ رنګه چې شاعران و اديبان د خپل دور ائينه وي۔ د خپل عهد نه وراخوا د ځانله فرد هيڅ حېثيت نۀ وي ـ هم د دې په تناظر کښې د اجمل خټک بابا په زمانه کښې په برصغير کښې سياسي ، سماجي ، معاشرتي او تهذيبي اقدار په بدلون وو۔ د زړو ورستو خيالاتو اوافکارو په ځائے د نوي تهذيب نمر څيره وخله ـ د نوي قدرونو د رواج سره زاړۀ رسومات او سماجي رشتې په اخري سلګو وې ـ نوې معاشرتي و تهذيبي قدرونه په زلميتوب وو۔ خو په دې وخت ځيني خلقو د زوړ نظام د ځادر پلونو کلک نيولي وو۔ ځيني خلق د مغربيت ذهن لرونکي د دې خلاف وو۔ البته ځيني شاعرانو اديبانو د دوي په مينځ کښې د هم اهنګئ کوشش کوو۔ چې په زړو بوتلو کښې د نوي دور شراب اچول ـ اجمل خټک هم د داسې خلقو شاعرانو نه وو۔

خدائي خدمتګار تحريک باني خان عبدالغفار خان ( باچا خان ) ، کاکاجي صنوبر حُسېن ، دوست محمد خان کامل ، امير حمزه خان شنواري ، ولي محمد طوفان په شان داسې قوم پرست او وطن پرست په دغه زمانه کښې پښتنو کښې پېدا شول ـ اجمل خټک چې په وينه کښې يې د خوشحال خان خټک وينه شامل وه ـ اسلام يې زړهٔ کښې وو۔ په ذهن کښې يې د ماکسزم چپې په عروج وې ـ اجمل خټک د پښتو د اوسني ادب يو ژوندے انقلابي شاعر نوميالے اديب او خوندور ليکوال ؤ۔ د دې ځلانده ادبي ستوري د ادب روښانه نمر هغې رڼا ته منسوبه ده ۔چې د خوشحال بابا د زړهٔ او د دماغو څخه راوتلې او د پښتنې دنيا په اسمان خپره شوې ده ـ ډاکټر شېرزمان سيماب د دوي په حقله ليکي چې

”اجمل صېب چې د پښتو جديد نظم باني دے ـ نو د ملي سياست هم نهٔ سترے کېدونکے مبارز ؤ۔ هغه د شعور دنيا ته هغه وخت داخل شو چې هندوستان د پېرنګي تسلط په پنجو کښې پروت ؤ۔ چې اجمل صېب د ازاد خياله زلمي په حېث د پېرنګي خلاف د مبارزې د يو سرګرم کارکُن په حېث ملګرے شو۔ نو قام پرست او ازادي پسند خيالات يې د فن د مخ سرهٔ شول ـ او چې په قامي کچ يې د غربت او تضاد چاپېرچل په نظر کښې ونيوؤ نو ترقي پسند شو ـ او چې کله د قام پرستۍ د فن په چوکاټ کښې يو بل ته ورترغاړه وتل نو

ے د خوشحال د خاورې پورته يو نغمه شوم
بل مشال په اباسين او تاتره شوم

د نغري سره د غېرت هغه چغه شوه چې ټول قام ته ورسېده ـ د لر او بر د غېرت د غرونو په تنګو کښې وکړنګېده هنګۍ هنګۍ شوه او بيا يې په ځان پسې يوه زمانه پېدا کړه ـ يو دور يې پېدا کړو۔ د سياسي فکر دور او د قامي فکر دور او دغه وجه ده ـ چې ارواښاد د يو لوئے دور وياړ شو او د لوئے دور وياړ به وي ـ وختونه به پرې نازېږي او زمانې به پرې فخر کوي ـ“[i]

ترقي پسندي يو فکري، ادبي، او سياسي رجحان دے ـ چې د مظلومو، محکومو او محرومو طبقو د حقونو لپاره رامنځته شو۔ د طبقاتي نظام بنياد پر دې وي چې وسايل، جايداد، او سياسي واک د محدودو کسانو په لاس کښې وي، حال دا چې اکثريت خلک له محرومۍ، نابرابرۍ او غربت سره مخ وي۔ د داسې نظام په نتيجه کښې انساني ارزښتونه تر پښو لاندې کښېږي، او ټولنيز عدل له منځه ځي۔ د ادب او شعر کار دا وي چې د داسې ظلم پر ضد غږ پورته کړي، او د انسان د خلاصون، عزت، او شعور لپاره مبارزه وکړي۔

”ترقي پسند تحريک په اصل کښې يو ادبي تحريک دے د دې پس منظر کښې ځيني سياسي ، سماجي ، معاشي او اقتصادي عوامل عمل دخل لري ـ د کومو په وجه چې روستو ترقي پسند ادبي تحريک په وجود کښې راغلے دے ـ“[ii]

د دې فکري تحريک د ودې او خپرېدو لپاره شاعران، ليکوال، او فلاسفه ډېر مهم رول لري۔ هغوی د خپلو فنونو په ذريعه د عامو خلکو د شعور د بيدارۍ ذمه واري اخلي، چې په دې ډله کښې د پښتو ادب ستر نوم "اجمل خټک" هم راځي۔

اجمل خټک نه يوازې يو ستر شاعر، اديب او صحافي و، بلکې يو سياسي مفکر، مبارز، او انقلابي هم و۔ د هغه شاعري د ده د فکر، تجربو، او شعور هنداره ده۔ هغه د پښتو ادب يو داسې ستورے دے چې د خپلو شعري تندرويو، ژور فکر، او سياسي وژن له وجې په ځانګړې توګه پېژندل کښېږي۔

”دا د اجمل خټک بابا په شان د شاعرانو برکت دے چې د خپل پښتني عزم د ننګ و مړانې د غېرت او د خودارۍ په جذبه وئيلي شعرونه يې قام ته حوصله وربخښلې ده ـ اجمل بابا چې چرې هم د خپل قام او ملت د جبر استبداد په لمبو کښې ليدلے دے ـ نو د پت او غېرت نه ډکو رګونو يې اور اخستے دے ـ د جبر او زغم بندونه يې د ننګ او جنګ د احساس له زوره شلېدلي دي ـ او د صبر و ستم په داسې وخت کښې يې د غېرت او مړانې نغمه سره شوې نهٔ ده بلکې سره شوې او ګرمه شوې ده ـ

ے کهٔ ظالم مې ژبه غوڅه کړه تېره کړه
تورې څومره چې تېره شي لا خوږه شي

اوس کهٔ نر وي نو غوږونه دې خپل پرې کړي
چې زما نغمه سره نهٔ شوله سره شوه[iii] “

اجمل خټک د خپل ژوند ډېرى برخه د سياسي جلاوطنۍ، قيد، او نظربندۍ په حال کښې تېره کړه، خو د هغه قلم هېڅ کله چُپ نه شو۔ هغه د خپلو اشعارو، مقالو، او تقريرونو له لارې د ټولنيز انصاف، ازادۍ، خپلواکۍ، او انساني وقار غږ پورته کړو۔ هغه د مارکسيزم، افغان ملتپالنې، او ترقي پسندۍ ګډ تاثرات خپل کړي وو۔

اجمل خټک په خپله شاعري کښې د طبقاتي تضاد، قامي استحصال، شتمنو د لوټ، او بې وزلو د بدحالۍ پر ضد زوردار اواز پورته کوي۔ د هغه کلام د عامو خلکو درد بيانوي، د هغوي ارمانونه راژوندي کوي، او د بغاوت ژبه جوړېږي۔اجمل

خټک هغه شاعر دے چې د طبقاتي شعور بیان یې یوازې د تشو نعرو پورې محدود نه دے، بلکې د ژوند له تلخ حقیقتونو سره تړلی دی. د هغه د شعرونو له لارې دا ښکاره کېږي چې هغه د ټولنیزو تضادونو، استثمار، او غربت بنیاد ته رسېدلے دے.
د هغه د شعر یو غالب موضوع د مزدور، هاري، او بې وسه انسان ژوند دے، کوم چې د سرمایه دار او جاګیردار د ظلم ښکار شوے دے. هغه دا طبقاتي تناقض داسې انځوروي لکه چې دا یو زخم وي، او شعر یې پټول نه بلکښې ښکاره کول غواړي. څنګه چې مونږ مخکښې ووې چې
"د اجمل خټک شاعري د انساني ناداری ، بې وسی او د خپل وطن د بې اختیاره ژوند خلاف یوه داسې نعره ده . چې انسان ته د جابر نه د خپل حق تروړلو او غاصب نه په خپل وطن د خپل واک اختیار ترلاسه کولو او خپل حالت په خپله د بدلولو تحریک ورکوي . د خپلې دغه دعوې دپاره د طبقاتي لرې برې متعلق د هغه چغه ده .
غټان غټان نېکان نېکان پیدا دي
دوي خو له ځایه جنتیان پیدا دي
ځئ هغه خوارو ته جنت وګټو
څوک چې د موره دوزخیان پیدا دي

او په خپل وطن خپل اختیار دپاره د خپل زړهٔ او ضمیر اوازونه په دغو الفاظو اوروي .
ما دې خپل زړهٔ ته سر ورښکته کړلو
دهٔ په اوترو سترګو بره کتل
دې شین اسمان ته غورېدو وئیل یې
ما اورېدل ترې دا یو څو لفظونه
وئیل اے د لا مکان خاونده
په خپل مکان کښې خپل اختیار جنت دے
کهٔ نار وي نار کهٔ دار وي دار جنت دے[iv]"

د اجمل خټک طبقاتي شعور دا هم واضح کوي چې یوازې د نظام د بدلولو خبره نه کوي، بلکې د انسان ذهن، روزنه، او سیاسي شعور ته هم توجه ورکوي. ځکه چې تر هغې پورې چې د ذهن انقلاب رانه شي، د ټولنې انقلاب ممکن نه دے.هغه دا هم وایي چې فقر یوه اقتصادي ناروغي نه، بلکې سیاسي استثمار دے. دا نظام دے چې خلکو ته د عزتمن ژوند حق نهٔ ورکوي، او شتمن په زور دا حقونه غصب کوي.
د اجمل خټک بله ستر فکري محور "قامي شعور" دے. هغه د پښتنو د سیاسي، اقتصادي، او کلتوري ازادۍ ستر مدافع و. اجمل خټک د یو ملت د خپلواکۍ پلوي و، او دا یې باور و چې بې له قامي شعور نه، نهٔ ترقي ممکن ده، او نه هم انصاف.
هغه پښتانه د تاریخ له اوږدې بېعدالتۍ، استثمار، او استعماري سیاست نه راویښول غوښتل. د هغه د قامي شعور بنیاد یوازې په نعرو نه، بلکښې په شعوري مبارزه، سیاسي تنظیمي کار، او عامو خلکو د قوت جوړولو باندې ولاړ و.
"اجمل خټک د قام پرستۍ د لېونتوب ترحده داعي ؤ. د هغهٔ په وینه کښې قام پرستي شامله وه . هغهٔ د قام غم خور ؤ. او د پښتنو د سوکالۍ او ترقۍ دپاره یې تل اواز اوچت کړے دے . د پښتنو فریاد یې د ترۍ ګُټ ګُټ ته رسولے دے . په خپله شاعرۍ کښې څهٔ داسې وائي
"چغه یم خو ژوندون د خپل مرام یم
زهٔ پشر په ورورلۍ کښې د خپل قام یم
مرګ او ژوند زما د لارې مرحلې دي
زهٔ روان د پښتنو په ننګ و نام یم[v]"

د اجمل خټک له نظره، ملت هغه نهٔ دے چې یوازې ژبه ولري، بلکې هغه دے چې د خپل حق، خپل شناخت، خپل کلتور، او خپل وسایلو دفاع وکړي . هغه د خپلې قامي وجدان د بیدارۍ لپاره د قلم، سیاست، او تنظیم درې واړه وسیلې استعمال کړې.
د قامي خودمختارۍ او د مرکزي ریاست د ظلم پر ضد هغه بې باکه شاعري وکړه.
مینه رانه پت غواړي وطن رانه خدمت غواړي
په ملګریه ! داسې سیاست نوے حکمت غواړي
راشئ چې دا مینه او غېرت سره جرګه کړو وس
وخت ګورے نن داسې یو روښانه سیاست غواړي[vi]

اجمل خټک د ادب د هغه ژبې پلوي ؤ چې د مظلومو غږ وي. د هغه په کلام کښې بغاوت، انکار، او چغې دي ـ هغه د استحصالي طبقو خلاف بغاوت ته بلنه ورکوي، ځکه چې د هغه په باور، ظلم د خاموشۍ نه، بلکې د اواز نه وېرېږي. هغه دا باور هم لري چې بغاوت نه يوازې وسلې ته وايي، بلکې د شعور بغاوت، د فکر بغاوت، او د کلمې بغاوت هم د ظالم پر ضد يوه وسله ده.

"هغه اجمل چې د وخت مغل ته يې د خپل خوشحال نيکۀ مورچه او سنګر ونيولو او ښۀ په نره يې د غېرت چغه پورته کړه ګويا شو چې

د خوشحال د خاورې پورته يو نغمه شوم
بل مشال په اباسين او تارتره شوم
څري پوئې شوې د غېرت چغه سور اور شوه
تا چې څومره رانغړدلم سره لمبه شوه

دا وېنا يې د کردار او نرتوب په معيار پوره اوګرزوله کۀ په رد عمل کښې ورسره هر څومره ناکړدۍ وشوې د دار سر ته يې ورسولو او دا يې اوګڼه چې ګني په داسې به د غېرت چغه خاموشه کړو نو دغه خوش فهمي به يې ډېره زر ختمه شوه چې په رد عمل به يې واورېدل چې

مونږ لېوني کۀ څوک په دار يروي
مونږ ته د يار د زلفو تار ښکاري
مونږ يې د ښادۍ د شوند نخښې ګڼو
چاته به ګُل چاته به خار ښکاري[vii]

په دې لحاظ، د اجمل خټک شاعري د انقلاب يو سند دے. هغه نه يوازې د مظلوم تصوير راکاږي، بلکې د بدلولو اراده هم ورکوي.دا يو نظم" خپله خاوره خپل اختيار " يې ډېر ښۀ مثال دے ـ

خپله خاوره ، خپل اختيار، خپل منزل ته لار
نۀ منم پردے اشر ، نۀ کووم پردے بيګار

خاوره لرم ، نوم لرم ، وينه لرم ،ننګ لرم
ورور منم په دغه لار، يار غواړم په دغه چار

يو مې په ډنډه وهې ، بل مې په فتوه ټګې
ولې نور دوکه شمه ، ولې وکړم نور اعتبار

وخته تا به وومنم ، هله چې تۀ ما منې
تۀ کۀ چل کښې ول کوې ، څۀ دې کووم څۀ مې کار

بې نومه د خټو بت، بې اختياره سر کدو
داسې انسان څۀ د کار ، داسې پښتون څۀ پکار ؟

کلے جوړوم بل ته ، قبر جوروم په ځان
داسې سياست څه دے ، پوزې ته پردے مهار

يا خو به پښتو کووم ، يا به چلوم بازار
وکت د تکو سپينو دے ، نۀ کيږي په خړو کار

زۀ خټک پښتون يمه ژوند د وررلو منم
دين منم ، دنيا منم ، نۀ منم په سر بادار[viii]

يو بل مهم اړخ دا دے چې اجمل خټک د ښځو د مقام، شعور، او حقونو هم يادونه کوي. هغه د ښځې نه يوازې د مور، خور، يا مينې په حيث يادوي، بلکې د دې پر سياسي شعور هم زور کوي ـ هغه ښځه د ازادۍ د تحريک برخه ګڼي. ځکه چې د

طبقاتي مبارزې او قامي بيدارۍ دواړو اثرات پر ښځو ډېر ژور وي، نو هغه غواړي چې ښځه هم په دې مبارزه کښې شريکه وي۔

تهٔ مې د وطن د ډيوې بله لمبه ګۍ يې
تهٔ زما د غرونو د تندي سپينه سپوږمۍ يې
تهٔ په ورشوګانو کښې چې ګرځې نو غندله يې
تهٔ بيا په باګونو کښې ښائسته ښائسته بلبله يې
کله د پښتو پ ګودر ناسته شين خالۍ يې
کله د غېرت مېدان کښې توره ابدالۍ يې
تهٔ خو دُرخانۍ يې
تهٔ خو ملالۍ يې
څوک وائي چې جينۍ يې[ix]

د اجمل خټک کلام د شعور، بغاوت، او ازادۍ يو شور دے۔ هغه شاعر يوازې د الفاظو نه، بلکې د احساساتو، دردونو، او اميدونو شاعر دے۔ هغه خپل قلم د قام، د مظلومو، او د محکومو لپاره کارولے دے ۔ د هغه کلام د پښتو ادب يوه داسې مرحله ده چې پکښې طبقاتي شعور، قامي شعور، د ظلم خلاف بغاوت، او د انسان د عزت خبره نه يوازې شوې، بلکې د انقلابي جذبې سره تړل شوې ده۔
د اجمل خټک فکري مکتب دا درس ورکوي چې تر څو شعور نه وي، تر هغه بدلون نه راځي۔ شعور هغه بنياد دے چې پر اساس يې قامي ازادي، طبقاتي انصاف، او انساني وقار ترلاسه کېدے شي ۔

حوالې

[i]: خټک ، هارون الرشيد ، اجمل خټک د وختونو وياړ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۱۶ مخ ۶،۷
[ii]: خليل ، حنيف ، ډاکټر، په پښتونخوا کښې د ترقي پسند تحريک او د پښتو ترقي پسندې شاعرۍ تحقيقي او تنقيدي جائزه ، غزنوي کتاب پلورنځي جناح روډ کوئټه ، ۲۰۱۴ مخ ۱۷
[iii]: هم دغه اثر . . . .. . . . . مخ ۷۴ ، ۷۵
[iv]: خټک ، هارون الرشيد ، بابا اجمل خټک د ادب جمال او د سياست جلال : غني سنز پرنټرز محله جنګي پېښور ، ۲۰۰۶ ، مخ ۲۸۲، ۲۸۳
[v]: د اجمل خټک کليات ،مرتب اياز الله ترکزے ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ، اکتوبر ۲۰۲۰ مخ ۱۹
[vi]: هم دغه کليات . . . .. . . . . .. . . . . مخ ۶۰۷
[vii]: خټک هارون الرشيد ، پښتون اجمل ( وړمبۍ برخه ) ، د چاپ ځائے پرې نهٔ دے ليک ، يکم مۍ ۲۰۱۰ مخ ۱۶
[viii]: د اجمل خټک کليات ،مرتب اياز الله ترکزے ، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور ، اکتوبر ۲۰۲۰ مخ ۵۲۹
[ix]: هم دغه اثر . . .. . . . . مخ ۴۸۲